# ( B)برخه: د خاوري اجزاوي یا ترکیبات

# (لومړی لوست: د خاوري سوري(منفذونه

# اصطلاح ګاني

لوي سوري يا منفذونه (Large Holes)

واړه سوري يا منفذونه(Small Holes)

## د لویو او کوچنیو سوریو په منځ د توپیرونو تشخیص کول

په خاوره کې سوري یا منفذونه له هغو تشو یا خلاو نه عبارت دي چې د خاوري په نمونه یې ذراتو کې شتون لري. دا سوري یا منفذونه په دوه ډولونو سره تعریف کیږي:

- **لوي سوري یا منفذونه(Large holes)** له هغو سوریو یا منفذونو څخه عبارت دي چې په شګلنو خاورو کې پیداکیږي. د هغې علت دا دی چې د شګو د ذراتو په منځ کې نسبتاً زیاتې فاصلې په پراخې اندازې سره شتون لري.
- **واړه سوري یا منفذونه(Small holes):** له هغو سوریو یا منفذونو څخه عبارت دي چې په عمده توګه په کلی (clay) او سیلت خاورو کې پیدا کیږي، څرنګه چې دا نوعه ذرات نسبتو شګو ته په کمې اندازې سره فاصلې یا خلاوي لري..

# د لويو او کوچنيو په منځ کي توپير






# د لویو او کوچنیو په منځ کي توپیر

خاوره له څلورو برخو څخه جوړه شوی ده:

٪۴۵ د خاوري منرال (شګه، سیلت او کلی.)

۲۵ فیصده اوبه

۲۵ ٪ هوا

۵ فیصد ه عضوي مواد(organic matter)

# د خاوري منځنی ترکیب یا جوړښت



# د غټو او وړو منفذونو د اهمیت تشریح کول

- لوي سوري د نم ویستنې لپاره ډیر مهم دي، په دي ترتیب سره د هوا لپاره دا زمینه برابروي ترڅو چي د خاوري له لاري د نباتاتو له ریښو څخه د هغوي د تنفس لپاره عبور وکړي. هغه خاوري په ډیري اندازې سره شګه ولري، پس نو داسې خاوري د کمو ولي لویو سوریو درلودونکي دي داسې وضیعت د دي سبب کیږي ترڅو هوا او اوبه په اسانۍ سره د خاوري په منځ کي حرکت وکړي .

# د غټو او وړو منفذونو د اهميت تشريح کول

I. واړه سوري يا منفذونه اوبه په خپل ځآن کي ساتي، په دي وسيلي سره د نبات ريښه له داسي اوبو څخه د اوربښت د نشتوالی په صورت کي استفاده کوي. د خاوري ذرات(کلی اوسيلت) د زياتو کوچنيو سوريو درلودونکي وي چي په خاوره کي د اوبو او غذايي موادو د ساتني سبب کيږي.

مرور / خلاصه(لنډيز)

- د لويو او کوچنيو سوريو په منځ د توپيرونو تشخيص کول
- د لويو او کوچنيو سوريو د اهميت توضيح او تشريح کول
- په محلي يا ځآيي خاورو کي کومه نوعه منفذونه شتون لري؟